2 017550 139621

# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۰مه | ٤٤٧مه ګڼه

## پوهنتون

۴ مخ




## چارواکي: په خوست کې د جلغوزو د غوټو سپړلو پر مهال سلګونو کسانو ته د کار زمينه برابرېږي



د خوست د کرنې رياست چارواکي وايي، په دغه ولايت کې د جلغوزو د غوټو سپړلو پر وخت سلګونو کسانو ته د کار زمينه برابرېږي او له همدې امله خلک ورته خوښ دي.
دوی وايي، هر کال د منې په موسم کې د سوېل ختيځو ولايتونو د ځنګلونو جلغوزي خوست ولايت ته راوړل کېږي؛ ځکه چې د دوی په خبره، د دې ځای هوا نسبتاً توده ده.
دغه جلغوزي د خوست ښار لوېديځ لور ته، اداري کمپلېکس ته څېرمه په يوه تش ډاګ کې اچول کېږي، څو غوټې يې د لمر په وسيله ښې وچې شي او جلغوزي په اسانه ترې را و ايستل شي. د چارواکو په خبره، په دې سره سلګونو بېوزلو ښځو، سړيو او ماشومانو ته هم دا موکه په لاس ورځي چې د ژمي لپاره د سون توکي برابر کړي.
هغوی د جلغوزو سپړلو په بدل کې تشې شوې غوټې د سون توکو په توګه خپلو کورونو ته وړي.

# د هسکې مېنې خونړی پېښه؛

## الازهر شريف: د لمونځ کوونکو وژل د ځمکې پر سر تر ټولو ستر جنايت دی



۳

پر ننګرهار کې داعشي وحشت او څو بې ځوابه پوښتنې
۲ مخ

د غني پنځه کلنه حکومتوالي او د يوه عظيم ملت د تاريخ د مسخه کېدو کيسه!
۲ مخ

تقلب؛ د ټاکنو پر مخ يوه درنه څپېړه!
۳ مخ

## خليلزاد: په افغانستان کې د لاسته راوړنو ساتل د امريکا له ملي ګټو څخه دي

د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خليلزاد له نږدې دوو مياشتو وروسته، په لومړي ځل له يوه لوپوړي امريکايي چارواکي سره په ليدنه کې په افغانستان کې د تېرو لاسته راوړنو پر ساتلو ټينګار کړی دی.
نوموړي د امريکا د ګډو ځواکونو له عمومي لوی درستيز مارک اليک سنډل ميلي سره تر ليدنې وروسته په خپل يو تازه ټويټ کې ويلي، چې په افغانستان کې د تېرو دوو لسيزو د پرمختګونو ساتل زموږ له ملي ګټو څخه دي.
هغه ويلي: «د امريکا د ګډو ځواکونو له لوی درستيز جنرال ميلي سره په کتنه کې چې هغه افغانستان ډېر ښه پېژني، موږ په دې موافق وو چې د يوه سياسي هواري له لارې د تروريستانو له ګواښونو څخه د خپل هېواد خونديتوب، زموږ د جګړې د پېټي د کمېدو اجازه راکوي او په افغانستان کې د تېرو دوو لسيزو له لاسته راوړنو ساتنه، زموږ د ملي ګټو څخه دي».
زلمي خليلزاد داسې مهال دا څرګندونې کوي، چې ولسمشر ټرمپ د خليلزاد په مشرۍ، له طالبانو سره د تېرو شاوخوا لسو مياشتو مذاکرات چې وروستۍ مرحلې ته رسېدلي وو، د سپټمبر په ۷مه لغوه اعلان کړل. د يادو مذاکراتو تر لغوه کېدو وروسته، دا لومړی ځل دی چې زلمي خليلزاد له يوه لوپوړي امريکايي چارواکي سره په ليدنه کې په افغانستان کې د سولې پر ټينګښت ټينګار کړی دی. تر دې مهاله معلومه نه ده چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې، چې دا مهال په ټپه درېدلې، بيا پيل شي که نه.

## ټرمپ په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې ۱۲۹ ميليونه ډالره د مکسيکو پر ديوال لګولي



۵ مخ

## رئيس کميسيون انتخابات از خاطر به تعويق افتادن نتايج ابتدايی معذرت خواهی کرد



نتايج ابتدايی انتخابات رياست جمهوری که قرار بود ديروز اعلام گردد، به دليل تاخير در روند انتقال معلومات دستگاه های بايومتريک به سرور، با تاخير اعلام می شود.
به اساس تقويم انتخاباتی، قرار بود که (۲۷ ميزان) نتايج ابتدايی رياست جمهوری اعلام شود.
عبدالعزيز ابراهيمی معاون سخنگوی کميسيون مستقل انتخابات با اشاره به اينکه کميسيون نمی خواهد که شفافيت را قربانی سرعت کند، گفت که به خاطر جدا کردن آرای سفيد از سياه، بازشماری و تفتيش آرا احتمال دارد که نتايج به تاخير اعلام گردد.
حبيب الرحمان ننگ رئيس دارالانشای کميسيون مستقل انتخابات، به رسانه گفت: «ما تا آخر روز، گزارش خود را با رهبری کميسيون شريک می کنيم و آنها معلومات را با مردم شريک خواهند کرد».
در عين حال حوا علم نورستانی رئيس کميسيون انتخابات از خاطر به تعويق افتادن نتايج ابتدايی معذرت خواهی کرد.
او گفت که نتايج ابتدايی به خاطر مشکلات تخنيکی و تأمين شفافيت در پروسه انتخابات به تعويق افتاده است.
وی همچنان بدون تذکر روز معين تأکيد کرد که نتايج به زودی اعلام خواهد شد.
قابل يادآوری است که انتخابات رياست جمهوری، به تاريخ ششم ميزان سال روان برگزار گرديده بود که قرار بود نتايج ابتدايی آن به تاريخ ۲۷ ميزان اعلام می شد.

Shigal English Academy
شيګل انګليش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

# په ننگرهار کې داعشي وحشت او ځو بې ځوابه پوښتنې

د ننگرهار په هسکه مېنه کې د جمعې د لمانځه پر مهال په جومات کې چاودنې نږدې اویا کسان شهیدان کړي او لسگونه نور یې ټپیان کړي دي. د برید ځرنگوالی معلوم نه دی او پړه یې هم چا پر غاړه نه ده اخیستې. د سیمې خلک چې له داعش سره په جگړه کې ښکېل دي، داعشیان د دې وحشت مسوول گڼي او د پېښې له ځرنگوالي هم ښکاري چې دا کار به داعش کړی وي. برید په کور دننه او بهر په پراخه کچه غندل شوی او لا به هم وغندل شي، خو دا هېڅ ستونزه نه حل کوي. دا غندل نه مړي را ژوندي کوي، نه د ټپیانو درملنه کولی شي او نه هم د داسې وحشتونو د تکرار د مخنیوي سبب کېږي.

په ننگرهار کې وروستي وحشت یو ځل بیا هلته د داعش د فعالیتونو په تړاو لویې پوښتنې را پورته کړې دي. د غندنې، ویر او بې مانا غمشریکی پر ځای، پکار ده چې ولس او فعالین دا پوښتنې مطرح کړي او حکومت یې ځواب کړي.

څلور کاله کېږي چې داعش په ننگرهار کې فعالیت کوي، یوازې د څو ولسوالیو ځینې سیمې ورسره دي. دولت یې پر وړاندې په لسگونو او آن په سلگونو ځله عملیات کړي، خو داعش نه یوازې ورک شوی نه دی، بلکې لا وحشي شوی دی او د بې گناه مسلمانو افغانانو وینې او غوښې یې خوړلې دي. څنگه شونې ده چې په یوه وړه جغرافیه کې داعش دومره اوږدمهاله مقاومت وکړي او ختم نه شي؟ څنگه شونې ده چې یوه جنایتکاره ډله د یوه داسې دولت پر وړاندې مقاومت وکړي، چې ۳۵۰ زره امنیتي ځواکونه لري، نړیوال ملاتړ لري، هوایي ځواک لري او د جگړې پوره تجربه لري؟؟؟ ولې یوه ډله په یوه داسې جغرافیه کې دوامداره فعالیت کوي، چې حکومت یې مخالف دی، بل ستر وسله وال ځواک ( طالب) یې مخالف دی، ولس ترې کرکه او نفرت کوي؟ ولې د داعش پر وړاندې لسگونه او ان سلگونه عملیات تر هغو دوام نه کوي، چې داعش ته یوه لوېشت ځمکه هم ور پاتې نه شي؟ ولې بیا بیا پر هغو سیمه ییزو پاڅونوالو هوایي بریدونه کېږي، چې له داعش سره په جگړه وي؟ ولې د طالبانو او داعش په جگړه کې پر طالبانو هوایي بریدونه کېږي؟ ولې د طالب او داعش په مقابله کې داعشیان ژوندي ژغورل کېږي؟ ولې هغه رپوټونه په جدي ډول نه څېړل کېږي چې امریکایي ځواکونه، مشخصې کړی او آن اشخاص پکې تورنیږي چې دې داعش ملاتړ کوي؟

دا او دې ته ورته ډېرې نورې پوښتنې شته چې بې ځوابه دي. د داعشي وحشت د مخنیوي لپاره پکار ده چې نور هر سیاستوال، هر مدني فعال، هر خبریال او هر افغان دا پوښتنې بیا بیا په جدیت سره مطرح کړي. اوس هغه وخت دی چې دولت هرې یوې پوښتنې ته واضح او مشخص ځواب ووایي. د داعش اوسنیو او نورو وحشتونو ته غوره، معقول او مناسب غبرگون همدا دی. له دې پرته غندل، غمشریکي، ساندې او ویرونه نه یوازې د داعشي وحشت مخه نه شي نیولی، بلکې په ولس کې به د وېرې، ماتې او ناهیلی څپې خورې شي او داعش به لا زیات وحشتونه وکړي.

# د غني پنځه کلنه حکومتوالي او د یوه عظیم ملت د تاریخ د مسخه کېدو کیسه!

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

د ډاکتر غني د حکومت پنځه کلن مزل هغه بحث دی، چې تل د غني او ملاتړو له لوري یې ولس ته تحریف شوی او له ورځنیو حقیقتونو یې لرې انځور وړاندې کړی.

که څه هم ولس ته په دې اړوند د قضاوت لپاره ورځنی ناکردي بس ده، ولې په یوه پراخ تاریخي بحث کې په داسې حال کې چې غني د واک او قدرت په نشه کې ډوب دی، دا پر موږ د ملت قرض او فرض ده چې دوی ته هغه حقایق چې دوی یې خپله هره ورځویني او گوري، د افغان ژغورنې په بحث کې، یو یو هغوی ته ورسوو او له راپېښ شویو او پېښېدونکو پایلو یې خبر کړو.

هغه څه د ډاکتر غني شخصي ژوند او عقیده نه؛ بلکې د ملت او حکومت په بحث کې د غني هغه کردارونه دي چې نږدې د گران وطن یو له ویاړه ډک تاریخ ورسره مسخه کیږي.

د بېلگې په توگه، غني په ۲۴ ساعتونو کې دننه له بهرنیانو سره د امنیتي تړون په نوم، د یوې پنځه کلنې جگړې قرارداد لاسلیک کړ.

ولې سوله چې د افغان ولس ملي غوښتنه، اړتیا او لومړیتوب ده، پوره پنځه کاله یې تخریب کړه، پنځه کاله یې ولس د خپلې برحقې داعیې(سولې) غوښتلو په جرم په کور، کلي، مسجد، هدیره، جنازه او واده کې بمبارد کړ، پنځه کاله یې ولس له سولې لرې وساته، پنځه کاله کې یې زموږ پنځه نسله یا را ووژل او یا یې پر جگړې دردمند او نیمگړي کړل، پنځه کاله کې یې ۵۰۰۰ ډوله بمونه پر خپل ولس وغورځول، پنځه کاله یې د ولس پر سر د راپرېوتونکو قیامتونو او ماتمونو پر سر حتا د تمساح اوښکه هم تویه نه کړه، په پنځو کالو کې یې یوځل یو وحشت ونه غندو، په پنځو کالو کې یې پنځه مسجدونه جوړ نه کړل؛ ولې ۵۰۰۰ یې بمبارد کړل، پنځه کاله پنجاب کونړ او غني د افغانستان گوټ گوټ په بمونو وویشتل.

پنځه کاله یې له بیت الماله د ولس ښکنځلو ته ځانگړې بودجه لرله، پنځه کاله یې حکومت سکوت ولې تدارکات فعال ساتلي وو، پنځه کاله یې خپلو خسرخېلو خطیب العالمي لبناني شرکت ته د بې تدارکاتي پړاوونو پروژې ورکولې، پنځه کاله یې د ولس له موبایلونو پنځه سلنه غلاه وکړه، په پنځو کالو کې یې له هر پښتون ضد سره د خپل واک د دوام په پاره معامله وکړه، پنځه کاله یې هر ځل د جگړې نغاره لومړی وغږوله، په پنځو کالو کې یې له امریکا او پنجاب سره پر ډېورنډ اغزن تار تېر او تورخم یې رسمي پوله کړ، پنځه کاله یې ارگ د پښتنو له هر قاتل (جنرال مالک) څخه د ښه راغلاست درشل گرځولی و، په پنځو کالو کې یې د خپلو لسگونو زرو امنیتي ځواکونو په مرگ خواشیني ونه ښوده؛ مگر د ٦٦ یرغلگرو امریکایي عسکرو د خواشینی ښودلو لپاره واشنگټن ته لاړ. په پنځو کالو کې کابینه سرپرسته وه، په پنځو کالو کې حکومت بشپړ نشو، په پنځو کالو کې یې پنځه سترې پروژې او کارونه ونه کړل، په پنځو کالو کې یې یو معیاري روغتون جوړ نه کړ؛ په داسې حال کې چې افغانان د پردو سفارتونو مختهٔ ناروغی ووژل.

په پنځو کالو کې له ۳۵ بریښنا بندونو څخه یو بند جوړ نشو، په پنځو کالو کې ۱۰۰ کیلومتره جغرافیه امن نشوه، په پنځو کالو کې یې د ټاکنو بهیر اصلاح نه کړ، په پنځو کالو کې یې پر یوه ستر معدن کار شروع نه کړ، په پنځو کالو کې یې سیاسي اجماع جوړه څه، چې یو مخ ناممکنه کړه، پنځه کاله ارگ پردی و، د نورو په گټه او له خپل ملت سره په دښمنی او عناد کې یې تصمیمونه او دریځونه نیول، پنځه کاله یې په هره غونډه، ناسته، دېره، حجره، جرگه او مرکه کې د ولس غږ په سوکانو، د خولو په تاوولو او له مجلسونو په شړلو بند کړل.

په پنځو کالو کې یې پنځه ځلې پر سولې عریضه او سلگونه ځله حمله وکړه؛ ولې د پنجاب د راکیټونو او د امریکا د بمباردونو اړوند یې یوه ورځ هم مخالفت ونه کړ. پنځه کاله یې سوله او امن په جگړې سره وغندل، په هغه لنډغر خراساني، قیصاري او علیپور پسي ارگ نه ډرون والوزول او نه صفر ۱، ۲، ۳ قطعې؛ مگر د پښتانه د وژلو لپاره یې بیا ۲۴ ساعته ډرون چمتو ساتلې وې او صفر یو په بمونو له چوولو نیولې، په سترگو کې تر ویشتلو او تازه په لغمان کې د چړو تر وهلو د هر ډول جنایت، وحشت او بربریت ریکارډونه مات کړل. په پنځو کالو کې یې هر گاونډی د اوبو پر سر وگواښه، مگر د هغوی له خروړې کولو بغیر یې نه د اوبو کوم مدیریت مالوم شو او نه د امو او کونړ سیندونو پر سر نه د پلونو تړل او نه هم د ورخونو جوړول معلوم شول. په پنځو کالو کې یې د پنجاب ټول دښمنان لکه اجمل بلوڅ، اسلم بلوڅ، لطیف الله مسید او نور یا په مرموز ډول ووژل او یا یې د پنجاب د جاسوسی ادارو ته لاس تړلي وسپارل. په پنځو کالو کې یې د اقتصادي تغیر کچه چې د گالپ د سروې له مخې، ۹۵ سلنه افغانان له اقتصادي ستونزو سره لاس او گرېوان دي، لوړه نه کړه؛ مگر اشرف غني د مالیې وزارت لپاره یو سلاکار د میاشتې په ۴۱،۲۵۰ زره ډالره میاشتني معاش گومارلی و. د غني په پنځه کلن حکومت کې د نړۍ د وژل شوو ماشومانو څلورمه برخه افغان ماشومان دي، ژمنه یې کړې وه چې په پنځو کالو کې به یو میلیون کاري فرصتونه برابروي، مگر اوس پنځه کاله وروسته پنځه میلیونه خلک بېکاره او تر نیم میلیون ډېر کډوال شوي دي.

ژمنه یې کړې وه چې په پنځو کاله کې به ۱۰۰ زره کورونه جوړوي؛ مگر برعکس په پنځو کالو کې یې ۵۰۰ سوه زره افغانان بې کوره کړل.

نه په پنځو کالو کې ۳۰۰۰ مکتبونه جوړ شول؛ نه د خلکو دسترخوان وغوړېد او نه عادلانه پرمختگ وده وکړه.

نه په پنځو کالو پنځه میلیونه برېښنایي تذکرې ووېشل شوې، نه په پنځو کالو کې د کابل بانک پوروته بشپړ شول، نه یې دوسیه وتړل شوه؛ بلکې یوازې د کابل بانک چورکوونکو ته ښارگوټی ورکړل شو او سلگونه میلیونه ډالره لکه فیروزي سرن په کمپاینونو کې معامله شول.

په پنځو کالو کې پنځه ولایتونه او تر ۱۰۰ ډېرې ولسوالی سقوط شوې. په پنځو کالو کې د دریو هوایي شرکتونو د سقوط شاهدان وو، په پنځو کالو کې پنځه برابره د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانی ارزښت راپرېوت، په پنځو ورځو کې یې د جلغوزو د قاچاق د مخنیوي لپاره طرحه جوړه کړه؛ مگر د ننگرهار په خوگیاڼو کې د جلغوزو د کارگرانو له قتل عامه میاشت اوړي، ولې قاتلان یې لا مالوم نشول. پنځه کاله یې له هلمنده تر ارگه د افغاني ښځې عزت او کرامت د امریکا په وحشتونو او د ټامیانو د جنسي وحشت په وروستی درندگی سره وداړه او داسې نورې سلگونه او زرگونه ناکردې ډاکتر غني او پر ټامیانو + خیاطانو مشهور ټیم یې وکړې، چې د افغان تاریخ په له ویاړه ډکه څپرکو کې څه چې د نړۍ په هېڅ گوټ کې یې د بلواکی او شرم بېلگې نه شي موندلی.

هغه چې د دې ښه مصداق د روان ۱۳۹۸ لمریز کال ولسمشریزې ټاکنې دي، کومې چې له ۳۵ میلیونه نفوس څخه د لسو میلیونو نوملیکنه او بیا د ټولټال ۱.۵ میلیونو خلکو چې د سیاسي، قانوني او ملي مشروعیت نهایت نهایت انزواه ده، په ټاکنو کې گډون چې د ۳۵ میلیوني ولس د ټولیزې محاسبې له مخې، له ۲-۳ سلنې ولس څخه استازولي کوي، د دې ناکردو، وحشتونو، بلواکیو، ورځچاریو او نفرت پر مخ د یوه عظیم ملت کلکه او درنه څپېړه وه.

ولې که څه هم ډېره ناوخته ده؛ مگر غني لا وخت لري چې له سولې سره خپله دښمني چې په حقیقت کې له ولس سره د جگړې اعلان دی، پایته ورسوي. پر بهرنیانو د ځان ساتلو محکوم فکر ته (نه) ووایي، د افغان ژغورنې او تاریخ ژغورنې له ولسي غبرگون سره یو شي، ولس او ارزښتونو ته یې راوگرځي او په دې سره حداقل خپل ځان د تاریخ له قضاوته خلاص کړي.

که نه، د ډاکتر غني د پنځه کلنې حکومتوالی وحشتونه او افغان وژنه نه پر دې خاوره مغل وکړله، نه چنگیز او نه گورگین نیانو، انگریزانو او حتا نه روسانو داسې څه وکړل. هغه شاشجاع چې غني یې غلام گڼي، افغان مجاهدینو ته د فرنگیانو خلاف، د کابل له بالاحصاره وسلې راغورځوې، مگر ډاکتر غني د نن عصر د فرنگي امریکایانو قتلونه، وحشتونه او افغان وژنې پر خپله غاړه اخلي. هغه یعقوب خان چې غني یې د شرمه ډکه څېره گڼي، مگر هغه هېڅکله د ځان ساتلو لپاره له پردو سره د امنیتي تړون په څیر د افغان وژنې د مشروعیت، دوام او د افغان انسان د قاتلانو د مصونیت تړون نه دی کړی. همدارنگه زه د تاریخ هېڅ داسې بدرنگه او بدنامه څېره نه پېژنم چې هغه دې رسماً د خپل ولس د وژلو کوم قرارداد لاسلیک کړی وي، مگر ډاکتر غني وکړل.

# سوداگر: د هرات په گمرک کې مو تر ۹۰۰ ډېر په سوداگریزو توکو بار کانټېنر درول شوي

د کندهار سوداگر وایي، له تېرو ۱۵ میاشتو راهیسې یې په سوداگریزو توکو بار نږدې ۹۰۰ کانټېنرونه درول شوي چې له امله یې هغوی ته درانه زیانونه اوښتي دي.

سوداگر د دغو کانټېنرونو د ژر تر ژره خوشي کولو غوښتنه کوي.

د حاجي لعل محمد په نوم د سپین بولدک یوه سوداگر پژواک خبري اژانس ته ویلي، شاوخوا ۱۵ میاشتې کېږي چې د لسگونو سوداگرو له ۹۰۰ زیات کانټېرونه چې د موټرو پرزې، بېټرۍ او نور برېښنایي او تخنیکي توکي پکې بار دي، په ناقانونه توگه درول شوي دي.

هغه زیاته کړې، د دغو توکو سوداگري ناقانونه نه ده، خو بیا هم له کوم لامل پرته درول شوي دي.

ده ویلي، سوداگر د دغې ستونزې د حل لپاره ان تر کابله هم تللي، خو ستونزه یې نه ده حل شوې.

نومړي دغه چلند د حکومت له خوا له سوداگرو سره ظلم گڼلی او ویلي یې دي: «که دا توکي ناقانونه وي، باید مخکې له مخکې یې په اړه حکم صادر شي او که ناقانونه نه وي، نو بیا حکومت ولې هېڅ په هېڅه د دوی کانټېرونه درولي او د مخکې تلو اجازه نه ورکوي».

د ده په خبره، دغه توکي له سېنگاپور، اماراتو او نورو هېوادونو څخه د ایران پر بندر عباس راوړل شوي او تر کال ډېره موده وشوه چې د هرات په گمرک کې همداسې بې برخلیکه پراته دي.

نومړي ویلي، له دې امله سوداگرو ته درانه زیانونه اوښتي او له سوداگرۍ خوابدي شوي دي.

هغه غوښتنه کړې چې حکومت دې د سوداگرو غږ واوري او د دوی درول شوي تجارتي مالونه دې پرېږدي.

د عبدالحي په نوم یو بل سوداگر هم ویلي، چې د کانټېنرونو د درول کېدو له امله سوداگرو ته درانه زیانونه اوښتي دي.

ده ویلي، په ډېرو کانټېرونو کې بېټرۍ او نور توکي بار دي چې د ډېرو یې تاریخ هم تېر شوی او خراب شوي دي.

د هغه په خبره، سوداگر نه پوهېږي چې مالونه یې ولې گرځول شوي، خو غوښتنه کوي چې مالونه دې یې ژر تر ژره پرېښودل شي.

نومړي گواښ کړی، که حکومت یې غږ وانه وري، نو لاریونونه به وکړي.

# د امریکا د کانگرېس غړي د سولې خبرو بیا پیل ته خوشبین دي

د وسله والو طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ د سولې درېدلو خبرو بیا پیل ته په کور دننه او بهر خوشبینی ډېرې شوې دي.

د امریکا د کانگرېس د بهرنیو اړیکو کمېټې دوو غړو، چې په دې وروستیو کې یې افغانستان ته سفر کړی، تازه د امریکا د سولې انستېټیوت ته د خبرو پر مهال د طالبانو او زلمي خلیلزاد ترمنځ د سولې مذاکراتو د بیا پیل په تړاو خوشبیني ښودلې ده.

د امریکا د ولسي جرگې د بهرنیو اړیکو کمېټې غړې سوسن داویس ویلي، چې ممکن د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ د سولې خبرې بیا پیل شي.

هغې ویلي: «تاسو پوهېږی چې تر اوسه افغان حکومت په مذاکراتو کې دخیل نه دی، خو دا مهمه ده کله چې مذاکرات بیا له سره پیلېږي، باید افغان حکومت پکې برخه ولري، خو اوس فکر کوم چې له انتخاباتو وروسته به خلیلزاد له طالبانو سره بیا مذاکرات پیل کړي».

په ورته وخت کې د امریکا د کانگرېس د بهرنیو اړیکو کمېټې بلې غړې مارتا روبي بیا د سولې پروسې پر ټول شمول والي ټینگار کړی دی.

هغې زیاته کړې: «د سولې پروسې په هره مرحله کې د ټولو لوریو حضور حتمي دی، موږ افغانستان ته په خپل وروستي سفر کې دا اندېښنې واورېدې، که غواړو چې مطمئین شو چې لاسته راوړنې نه یوازې حفظ، بلکې دوام پیدا کړي، باید په دې پروسه کې ټول لوري شامل شي».

په ورته وخت کې د امریکا د سولې انستېټیوت رییس ویلي چې افغانان اوس تر بل هر وخت ډېر سولې ته ضرورت لري.

د سولې مذاکراتو بیا پیل ته د امریکا د کانگرېس غړو خوشبیني داسې مهال ده، چې تازه د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم ویلي چې امریکا په افغانستان کې سیاسي جوړجاړي ته ژمنه ده.

# تقلب؛ د ټاکنو پر مخ یوه درنه څپېړه!

لیکنه: ف، فایض

د امریکا او طالبانو تر منځ د مذاکراتو موضوع او ولسمشریزې ټاکنې تقریباً سره موازي روان وو. د افغانستان د غوڅ اکثریت نفوس غوښتنه دا وه چې سولې ته دې ترجیح ورکړل شي. د پخواني ولسمشر حامد کرزي نظر دا و چې حکومت دې د همدې اوسنیو مشرانو په موجودیت کې دوام وکړي، سوله دې وشي او بیا دې لویه جرگه را وغوښتل شي، بیا چې جرگې څه پرېکړه وکړه، هغسې دې وشي؛ خو ولسمشر دوه پښې په یوه موزه کې کړې چې نه؛ خامخا دې ټاکنې وشي. د طالبانو او امریکا تر منځ خبرې نهم پړاو ته وغځېدې، خو دا چې له دې خبرو څه کوچ لاس ته راغلل، هغه له همدې دواړو لوریو سره پاتې شول؛ خو په نویمه دقیقه کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ لغته ورکړه او په یوه ټویټ یې د خبرو لړۍ بنده کړه. دې کار افغان حکومت ته یوه ښه پلمه په لاس ورکړه چې اوس خو نو باید خامخا ټاکنې وشي. ټاکنې وشوې؛ خو د ټاکنو په باب د ډېرى شنونکو اټکل سم وخوت او هغه دا چې په ټاکنو کې په لومړي قدم کې «تقلب» او په دویم قدم کې د امریکا تصمیم رول لري، دا نورې خبرې ثانوي حیثیت لري. په ټاکنو کې د مختلفو دلایلو په وجه ډېرو لږو خلکو گډون وکړ، یو خو د طالبانو گواښ و گیر او بل د تېرو پارلماني ټاکنو برخلیک خلک له ټاکنو سره بالکل بې علاقې کړي وو. ټاکنې باید په ۹۸/۷/۶ نېټه په اوو بجو پیل او په دریو بجو ختمې شوې وای؛ خو کمېسیون دا وخت تر پنځو بجو پورې وغځاوه؛ خو بیا هم د ټاکنو بهیر همغسې کم رنگه پاتې شو. که څه هم تر اوسه پورې خو لا د رایو هغه لومړني نتایج هم نه دي اعلان شوي او لا ورته وخت شته؛ خو کوم خبرونه چې د نارسمي سرچینو لهخوا خپرېږي یا د نوماندانو لهخوا کومې ادعاوې کېږي، سړی حیران شي چې دا څه ډول کیدای شي چې غویی لا حلال نه او خنکي پر سر ایښې! یو وایي ما گټلې او بل وایي ما گټلې. ځینې ځوانان خو یې په اټکلیزه توگه سلنه هم ښیي چې د دغومره رایو په حدودو کې مو گټلې دي. د اټکل له مخې داسې برېښي چې دولت جوړوونکی او د ثبات او همپالنې ټیم به سره د سیالۍ په ډگر کې پاتې کېږي. په دوی پسې دویمه درجه ټیمونه هم ځان له چا کم نه گڼي او دوی په ټاکنو کې د تقلب مشخص مثالونه هم وړاندې کوي. یوه ویډیو چې په ټولنیزو رسنیو کې هم ښکته پورته کېده، په یوه مرکز کې څو ښځې لگیا دي او صندوقونه له رایو ډکوي، دا ویډیو تقریباً پنځه دقیقې ده. همدارنگه په پارلماني ټاکنو کې چې په کوم ځای کې څومره رایې ورکړل شوې وې، اوس هلته د څو چنده رایو راپورونه ورکول کېږي، په داسې حال کې چې په ولسمشریزو ټاکنو کې د خلکو گډون د پارلماني ټاکنې په تناسب ډېر کم و؛ نو بیا رایې په څه زیاتې شوې؟ دغسې د بایومتریک او نه بایومتریک رایو ناندرۍ هم لا پر خپل ځای دي. د ټاکنو کمېسیون وایي چې نا بایومتریک رایې به نه شمېرل کېږي، همدغه غوښتنه د نورو نوماندانو هم ده؛ خو ځینې لوري له هغې جملې د دولت جوړوونکي ټیم د ځینو مشرانو لهخوا گواښل کېږي چې نا بایومتریک رایې به شمېرل کېږي؛ خو پخپله کمېسیون بیا وایي چې نا بایومتریک رایې، تکراري رایې، سپینې رایې او قلم خوړې رایې په اصلي رایو کې نه شمیرل کېږي. د زیاترو نوماندانو غوښتنه هم همدا ده چې باید نا بایومتریک رایې و نه شمېرل شي او که داسې وشي، دوی به پایلې هم مني او گټونکي ته به مبارکي هم وایي؛ خو وبه گورو چې د ټاکنو کمېسیون تر کومه بریده پر خپلو ژمنو عمل کولای شي او یا یې څوک عمل ته پرېږدي. د شکایتونو کمېسیون هم مني چې دوی ته مختلف شکایتونه ور رسېدلي دي، چې دوی یې لومړی تصنیف بندي کوي او بیا پرې غور کوي. د دې کار لهپاره په قانون کې پنځلس ورځې وخت ټاکل شوی چې باید تصفیه او په هکله یې پرېکړه وشي.

دلته دوې خبرې مهمې دي:

لومړی دا چې د ټاکنو او شکایتونو کمېسیونونه لکه د مخه مو چې هم یادونه کړه، تر کومه بریده پورې خپلې ژمنې عملي کولای شي؟

دویمه دا چې د ټاکنو او شکایتونو کمېسیونونو تر اجراآتو او په ټاکلي وخت د رایو تر اعلانولو وروسته به بایلونکي نوماندان کوم غبرگون ښیي؟

په دې کې شک نشته چې د افغانستان په څېر په یوه جنگ ځپلي هېواد کې او هغه هم چې لا د ډیموکراسۍ او ټاکنو د تمرین په لومړنیو مراحلو کې واقع دی او پر هغې سربېره، جنگسالاري او زورواکي هم پر خپل ځای پکې پاتې ده او یوه تپلې نیابتي جگړه هم دوام لري، د شفافو ټاکنو کول او یا یې تمه کول هسې بېځایه خبره ده. دلته به تر ډېره پورې ټاکنې کېږي؛ خو سلو په سلو کې د شفافو ټاکنو تمه نه شي کېدای. تر اوسه پورې لا حکومت پر ټول هېواد حاکم نه دی، ډېرى سیمې د وسله والو مخالفینو په لاس کې دي، قانون لا پوره نه دی حاکم؛ نو په دغسې یوه حالت کې به څه ډول شفافې ټاکنې وشي. له بلې خوا ولسمشرۍ ته نوماندان او خصوصاً هغه نوماندن چې د گټلو چانس یې ډېر کم لیدل کېږي، هېڅکله پر دې قناعت نه کوي چې د شفافو ټاکنو په نتیجه کې د گټونکي شي، بس هر یو وایي چې له هرې لارې ممکن وي؛ خو چې ټاکنې وگټي. دا چې په خپلو غونډو او خبري کنفرانسونو کې څه وایي، هغې خبرې ته پاتې کېږي چې:

«دستم به آلو نمیرسد، آلو ترش است».

زما په باور، که څه هم د تقلب ادعا خو ټول کوي؛ خو یو هم داسې نه دی چې په تقلب کې لاس ونه لري، فقط دا خبره ده، د چا چې څومره وس رسیدلی، د تقلب لمن یې نیولې او که یې وس نه دی رسیدلی، هغه خو نو جلا خبره ده.

متأسفانه زموږ ټاکنې هر ځل تقلب بدنامې کړې او بې اعتباره کړې دي. په ۲۰۱۴ ز کال کې موږ ولیدل چې بین المللي څارونکي راغلل، رایې یې بیا وشمېرلې او څومره رایې یې باطلې اعلان کړې؛ خو له هغې سره سر هم دوو مخکښو نوماندانو قناعت و نه کړ، تر هغې چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر راغی او د ملي وحدت حکومت یې پرې جوړ کړ؛ خو دې حکومت ښه نتیجه نه درلوده، هیله ده چې دغه ناکامه تجربه بیا تکرار نه شي.

د ولسمشرۍ مخکښ نوماندان باید پر دې پوه شي چې ولس نور د بحرانونو د بیا بیا تجربو حوصله نه لري. اوسنیو ټاکنو وښوده چې ولس نور له ټاکنو سره څومره بې علاقې شو دی او په حقیقت کې پر حکومت بې باوره شوی دی؛ نو هیله ده چې بحرانونو ته لار اواره نه کړي او ټول یو ځل بیا هېواد ته د سولې راوستلو په لار کې خپلې هلې ځلې پیل کړي.

# د هسکې مېنې خونړۍ پېښه؛

## الازهر شریف: د لمونځ کوونکو وژل د ځمکې پر سر تر ټولو ستر جنایت دی



په ننگرهار کې د ورمې ورځې برید په نړیواله کچه غبرگونونه پارولي دي. ملگرو ملتونو، امریکا، د بښنې نړیوال سازمان، عربي هېوادونو او د نړۍ سترو علمي او مذهبي مرکزونو دغه برید په کلکو ټکو غندلی دی. دوی پر عامو عبادت کوونکو برید د نړۍ تر ټولو ستر وحشت او فساد بللی دی او د دغې پېښې د عاملینو د سزا غوښتنه یې کړې ده.

د ننگرهار ځایي چارواکي وایي چې د پېښې په اړه یې پلټنې پیل کړې دي او هڅه کوي چې ژر تر ژره یې عاملین د خپلو کړنو په سزا ورسوي.

ورمه ورځ د ننگرهار په هسکه مېنه ولسوالۍ کې د جمعې د لمانځه پر مهال پر لمونځ کوونکو چاودنه وشوه. د ننگرهار ولایت د والي ویاند وایي چې لمونځ کوونکو د جمعې د لمانځه لومړی رکعت بشپړ کړی و او د دویم رکعت د پیل پر مهال چاودنه شوې ده. د ده په خبره، په پېښه کې لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې. وروستي معلومات ښیي چې په پېښه کې د ۷۲ ملکي وگړو د وژل کېدو خبر ورکړل شوی دی؛ خو ځینې سرچینې بیا وایي چې ښایي د وژل شوو کسانو شمېر تر دې هم ډېر وي، ځکه د ځینو کسانو مړي لا تر اوسه ورک دي. ځینې سرچینې وایي چې په پېښه کې تر څلوېښتو پورې کسان ټپیان شوي هم دي.

دغې خونړۍ پېښې د نړۍ په گوټ گوټ کې غبرگونونه پارولي دي. ولسمشرۍ ماڼۍ دغه پېښه په کلکو ټکو غندلې ده او پر امنیتي ادارو یې غږ کړی چې د دغې پېښې عاملین ونیسي. بلخوا د ملگرو ملتونو عمومي منشي انتونیو گوتریش هم په یوه پیغام کې د ننگرهار په هسکه مېنه ولسوالۍ کې د ورمې ورځې برید غندلی دی. نوموړي ویلې چې پر عامو وگړو برید په تېره پر عبادت کوونکو برید د نړۍ تر ټولو ستر وحشت دی او تر سره کوونکي یې د بشر ضد او انسان ضد کسان دي. نوموړي هیله څرگنده کړې چې نور په افغانستان کې د روانو خونړیو پېښو لمن ټوله شي.

بلخوا د بښنې نړیوال سازمان هم دغه برید په کلکو ټکو غندلی دی. د دغه نړیوال سازمان له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په سوله ییزه فضا کې پر عامو لمونځ کوونکو برید ستر وحشت او د نه بښلو عمل دی. دغه سازمان ویلي چې په دې سختو شرایطو کې له افغانانو سره خپله خواخوږي څرگندوي.

په نړۍ کې د اسلامي علومو تر ټولو ستر مرکز الازهر شریف هم د ننگرهار په پېښه غبرگون ښودلی دی. دغه ستر مرکز چې په نړۍ کې د فتوا صادرولو او اسلامي علومو ستر تحقیقاتي او څېړنیز مرکز دی وایي، د ننگرهار پېښه د ځمکې پر سر تر ټولو ستر وحشت او فساد دی. د دغه مرکز په اعلامیه کې راغلي چې په جوماتونو کې د مسلمانانو وژل د ځمکې پر سر تر ټولو ستر فساد دی او عاملین یې د بشریت دښمنان دي. د دغه مرکز په اعلامیه کې راغلي: ((د بې گناه انسانانو وژل، پر لمونځ کوونکو برید کول، د دوی په ښه کول، په اسلامي مرکزونو کې وېره خپرول؛ د ځمکې پر سر تر ټولو ستر وحشت او فساد دی)).

د ولسي جرگې غړو هم تېره ورځ د ننگرهار د پېښې په غبرگون کې بېړنۍ ناسته رابللې وه. دوی پر عامو وگړو برید په کلکو ټکو وغانده او هغه یې غیر انساني عمل وباله. د ولسي جرگې غړو وویل چې پر عامو افغانانو برید هغه هم د لمانځه پر مهال د نه بښلو عمل دی او حکومت دې ژر تر ژره د عدالت د تامین لپاره د پېښې عاملین ونیسي.

یوازې دا نه؛ بلکې په ټولنیزو رسنیو او نړیوالو چاپي او تصویري رسنیو کې هم د ننگرهار پر برید خواشیني څرگنده شوې او دغه پېښه یې نه بښل کېدونکی بشري جنایت بللی دی. دا لومړی ځل نه دی چې په افغانستان کې په جوماتونو او دیني مرکزونو کې چاودنې او بریدونه کېږي؛ بلکې تر دې وړاندې هم د جگړې ښکېلو لورو ورته بریدونه کړي دي. افغان حکومت بیا ژمنه کړې چې د پېښې عاملین به د قانون منگولو ته سپاري.

# کُردان: ترکي ځواکونو په پرله پسې ډول له اوربنده سرغړونه کړې ده



د سوریې په شمال- ختیځ کې کردي ځواکونو پر ترکیې تور پورې کړی، چې ځواکونه یې په پرله پسې ډول له اوربنده سرغړونه کوي او له سیمې د ملکي خلکو وتلو مخنیوی کوي.

کردانو ویلي، باید د راس العین ښاریانو وتلو لپاره بشر دوستانه تگلاره چمتو شوې وای، چې په خبره یې داسې نه دي شوي.

د دوی په وینا، له دغه ښاره په وروستیو نښتو کې د ملکي خلکو او ټپیانو ایستل ناشوني شوي دي. بل لور ته ترکیې هم پر کردانو تور پورې کړی چې څو ځله یې له اوربنده سره غړونه کړې ده.

په ورته وخت کې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، په سوریه کې به خوندي سیمه له هغې پراخه وي چې امریکایي چارواکو یې خبره کړې ده. د اردوغان په خبره، د سوریې په شمال کې به دا خوندي سیمه له ۴۰۰ کیلومترو ډېره پراخه او سور به یې ۳۲ کیلومتره وي. اردوغان دغه راز زیاته کړې چې هېواد یې غواړي د سوریې په شمال کې ۱۲ پوستې جوړې کړي.

د ترکیې د ولسمشر دا خبرې تر هغه څو ساعته وروسته کېږي چې په سیمه کې یې د پنځو ورځو اوربند هوکړه وکړه. د دې هوکړې پر اساس، کردي ځواکونه له دې سیمې د وتلو چانس تر لاسه کوي.

په ورته وخت کې ورمه شپه د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ او اردوغان د سوریې د شمال پر حالاتو ټلیفوني خبرې هم کړې دي.

له هغه وروسته چې د ښکېلو خواوو لهخوا د اوربند د ماتولو په اړه راپورونه خپاره شول، ټرمپ ویلي، د ترکیې ولسمشر ورته ویلي چې دا نښتې کموي او نږدې پای ته رسېدلې دي.

په ورته وخت کې د ملگرو ملتونو یوه چارواکي ویلي، چې دا مهال له راس العین پرته په ډېریو سیمو کې وضعیت ښه دی، خو کردیانو او د بشري حقونو سرچینو ویلي، په دې سیمه کې ډزې او چاودنې دوام لري.

دا په داسې حال کې ده چې د سوریې له شماله د امریکایي ځواکونو له شاتگ څو گړۍ وروسته، ترکیې د سوریې پر پوله پر کردانو بریدونه پیل کړل او زیاتې سیمې یې تر خپلې ولکې لاندې راوستې. د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، د دغو بریدونو موخه دا ده چې دا سیمه له ترهگرو پاکه کړي او د سوریې شاوخوا دوه میلیونه جنگ ځپلو وگړو ته امن سیمه جوړه کړي.

خو په سوریه کې د ترکیې عملیات د یوه بل انساني ناورین لامل شوي چې د سره صلیب نړیوالې کمېټې په خبره، تر دې مهال دوه لکه سوري کډوالو خپلې مېنې پرېښې دي.

## د کتــاب خبـرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

## پنځم څپرکی
## له منځه تلونکي قومونه




د ۲۰۱۱ز کال په اگسټ کې د سرحدي سیمو د قانون اصلاحات اعلان شول. د ولسمشر زرداري هغه دوه اجرایوي فرمانونه چې د دې قانون د اصلاح لپاره یې د اگسټ پر ۱۲مه لاسلیک کړي وو، پر ټلویزین د حکومت له لوري د سودگریزو خبرتیاوو په توگه اعلانېدل. خلکو زرداري ته د دې اصلاحاتو مبارکي وویله چې د سیاسي استازو صلاحیتونه یې کم کړل او له مخې یې له مالي او حقوقي خنډونو سره مخ شول. له تېرې یوې پېړۍ، د لومړي ځل لپاره په فاټا کې سیاسي گوندونو ټاکنیز کمپاینونه پیل کړل. نوی قانون په نړیواله کچه د بشر حقونو له معیارونو برخمن و. د سرحدي سیمو د قانون د (ډله ییزې جزا) برخه په ټوله کې له قانون لیرې شوه. چارواکو نور اختیار نه لاره چې له شپاړسو کلونو ټیټ ماشومان او له پنځه شپېته کلونو لوړ عمره مېرمنې زنداني کړې. له دې وروسته د فاټا اوسېدونکو کولای شول چې د حکومتي چارواکو پر وړاندې محکمه کې غبرگون وښيي.

خو د پرمختگ لړۍ لا په دې سیمه کې هماغسې په ټپه ولاړه وه، پوځ لا هم د پردې تر شا د خپلو گټو په لټه کې و. په جولای میاشت کې ولسمشر زرداري په فاټا او د خیبر پښتونخوا په ځینو سیمو کې پوځ ته ځینې واکونه ورکړل چې له مخې یې پوځ یو ځل بیا کوی شوای، شکمن یاغیان په خپله خوښه ونیسي او زندان ته یې واچوي. ملکي او نظامي چارواکو ته یې د سختو جزاگانو واک ورکړ چې په ترځ کې یې د سرحدي سیمو د قانون اصلاحات بېرته په اوبو لاهو شول.

د اصلاحاتو ټولیز تطبیق لا هم یو خیال دی. پاکستاني مشران له غبرگونونو سره مخ دي، هېواد مو له روان کړکېچ سره مبارزه کوي. فاټا کې افراطیان پر جگړه بوخت دي، د اسلاماباد له لوري پر هغوی ځواک کارول شوني نه دي، نو ژر دې بدلون راشي. پاکستاني جنرالان د فاټا برخلیک د افغانستان له پېښو سره تړلی بولي. د سیمې د نورو لوبغاړو په څېر جنرالان هم په ۲۰۱۴ز کال له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو له چارې سره سم خپل پلانونه تنظیموي.

د افغانستان جگړې په بنسټیزه توگه د پولې دواړو غاړو ته د پښتنو اقتصاد بدل کړی. د کرنې او مالدارۍ شته فرصتونه په ټولیزه توگه پر پوله په ناقانونه سوداگرۍ، لکه د نشه یي توکو او وسلو پر قاچاق اوښتي. په ۲۰۱۰ز کال افغانستان او پاکستان د سوداگرۍ د ترانزیټ تړون لاسلیک کړ چې له مخې به یې د دواړو هېوادونو له خاورې څخه هند او مرکزي اسیا ته سوداگري کېږي، خو د دې تړون د پلي کېدو پر وړاندې بیروکراسي خنډ شوې. نظامي عملیاتو هم پر پوله سوداگرۍ اغېز کړی. په فاټا کې د اقتصادي بدیلو لارو د نه شتون په صورت کې ډېرو خلکو د ترهگرو غېږې ته ځان اچولی.

جگړې په سیمه کې د انساني پرمختیا ډېر شاخصونه له ستونزو سره مخ کړي. دلته د لوړې کچه ٦۰ سلنه ده چې د پاکستان د نورو سیمو په پرتله دوه برابره گڼل کېږي. هغه رسمي شمېرې چې یوه لسیزه وړاندې خپرې شوې، ښيي چې د پښتنو په دې سیمه کې د تعلیم کچه له (۱۷.۴ څخه تر ۲۹.۵) سلنه پورې د نارینه وو ده او د ښځو د تعلیم کچه (۳سلنه) وه. د لومړنیو ښوونځیو د شمولیت کچه د نارینه زده کوونکو (٦۸سلنه) وه، خو د نجونو د گډون کچه یوازې (۱۹سلنه) وه.

په قبایلي سیمو کې ۱۰۲ کالجونه وو چې له دې ډلې یې یوازې درې (۳) د ښځو او نجونو له لپاره وو، خو د مدرسو شمېر ۳۰۰ تنو ته رسېده. د ۲۰۰۰ز کال په منځ کې په ټوله فاټا کې ۵۲۴ ډاکټرانو فعالیت کاوه چې د نفوسو په تناسب، د هرو (٦۳۰۷) وگړو لپاره یو ډاکټر رسېده. په لیرې پرتو سیمو کې ان یو روغتیایي مرکز هم نشته. په ټوله فاټا کې دوه جراحي روغتونونه شته. له ۲۰۰۴ز کال څخه را وروسته په سلگونو ښوونځي، پلونه او زېربناوې د یاغیانو له لوري له منځه وړل شوي. ښوونځي په ځانگړې توگه د نجونو ښوونځي په ټولیزه توگه د افراطي بریدونو د وېرې له کبله تړل شوي. پوځ او د پرمختیایي چارو اداره د ډېرو پروژو لېست ښکاره کوي، خو د دې پروژو هېڅ اغېز نه ښکاري.

د پاکستان د نفوسو (۲.۴ سلنه) یې په فاټا کې اوسېږي، خو ملي سرچینې په سلو کې یوازې یو سلنه دې سیمې ته ځانگړې شوې دي. د نورو سیمو په پرتله، ډېرو لږو مرستندویه ادارو ته اجازه ورکړل شوې چې په دې سیمو کې کار وکړي. دا سیمه په لویه پیمانه کډوال او بې ځایه شوي لري، دا کچه یې د اسلام پالو تر جگړو وړاندې هم له نورو سیمو څخه ډېره وه. د جگړې له پیل څخه تر اوسه نیم نفوس کډوال شوی او د بېکارۍ کچه ۸۰ سلنه ده.

**دوام لري...**

# وادي هلمند د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



وادي هلمند د لوړو زده کړو موسسې په ۱۳۸۹ لېږدیز لمریز کال کې د لوړو زده کړو وزارت له منظورۍ وروسته، په هلمند ولایت کې د یوه پوهنځي (طب) په درلودلو سره پر فعالیت پیل وکړ او عملاً یې په یاد پوهنځي کې محصلین د زده کړو لپاره جذب کړل.

د دې موسسې د علمي چارو مرستیال ولي محمد افغان لشکري وايي، وادي هلمند د لوړو زده کړو موسسه په جنوب- غرب حوزه کې یوازینی خصوصي بنسټ دی، چې پر فعالیت یې پیل کړی دی. د معیارونو تر پوره کولو وروسته، په ۱۳۹۲ لېږدیز لمریز کال کې لوړو زده کړو وزارت یادې موسسې ته د ښوونې او روزنې او شرعیاتو پوهنځي د تاسیس جوازونه هم ورکړل. دغه موسسه اوسمهال څلور پوهنځي (طب، ښوونه او روزنه، شرعیات او حقوق) لري. ښاغلی لشکري وايي، لوړو زده کړو وزارت ته یې د اقتصاد او ژورنالېزم پوهنځي غوښتنلیکونه هم سپارلي، دا چې څه وخت به یې جواز ورکړل شي، په اړه یې معلومات نشته.

د وادي هلمند د لوړو زده کړو موسسې د طب پوهنځی دوه ډیپارټمنټونه (کلینیک او پارا کلینیک)، حقوقو پوهنځي دوه ډیپارټمنټونه (اداره او ډیپلوماسي، قضا او څارنوالي)، شرعیاتو پوهنځی دوه ډیپارټمنټونه (اسلامي تعلیمات او فقه او قانون) او ښوونې او روزنې پوهنځی بیا د ( پښتو او انگلیسي ادبیاتو) ډیپارټمنټونه لري. د لوړو زده کړو دغه موسسه ټولټال ۱۴۵۰ محصلین لري، چې له دې ډلې ٦۵۰ یې ښځینه او پاتې نور یې نارینه محصلین دي. د وادي هلمند له لوړو زده کړو موسسې څخه تر اوسه پورې ۱۲۵۰ محصلین چې ښځینه محصلینې هم پکې شاملې دي، تر اوسه پورې فارغ شوي او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شوي دي. ښاغلی لشکري وايي، دوې دورې محصلین یې له طب پوهنځي، پنځه دورې له حقوقو پوهنځي، درې دورې له شرعیاتو پوهنځي او له ښوونې او روزنې پوهنځي څخه بیا تر اوسه پورې یوه دوره محصلین فارغ شوي، چې ډېری یې خپله د هلمند ولایت په ښوونځیو کې د مسلکي ښوونکو په توگه پر دندو گومارل شوي دي.

په وادي هلمند د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې په ټولو پوهنځیو کې د ماسپښین له یوې بجې وروسته شروع کېږي او د مازدیگر تر څلور بجو پورې دوام کوي. دا چې په دغه موسسه کې د تدریس چارې د څو استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، لشکري یې په اړه څه ونه ویل، خو د استادانو د تحصیلي کچې په اړه وايي چې د لوړو زده کړو وزارت له غوښتنو سره سم یې ځینې ماسټر استادان پر دندو گومارلي او پاتې نور یې لېسانس دي. ښاغلی لشکري وايي، تر اوسه پورې یې د استادانو په ډله کې کوم دوکتور استاد نشته، خو هڅه به وکړي چې لومړی خپل ټول استادان ماسټر کړي او له هغه وروسته به ورته په کور د ننه او بهر کې د دوکتورا زمینه هم برابره کړي.

د لوړو زده کړو دغه موسسه په کور د ننه بیا په ځانگړې توگه له هلمند دولتي پوهنتون او په دغه ولایت کې له نورو خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده له موسسو سره ښې علمي اړیکې لري. د دې موسسې علمي مرستیال ولي محمد افغان لشکري وايي، کله چې په خپله موسسه کې ورکشاپ او یا هم کوم سمینار جوړوي، د دغو پوهنتونونو استازو ته بلنه ورکوي او دغه راز وخت ناوخت له دغو پوهنتونونو سره خپلې تجربې شریکوي او تر څنگ یې د هغوی له تجربو هم گټه اخلي. وادي هلمند د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو او استادانو لپاره مجهز کتابتون لري، چې اوسمهال یې تر یوې کچې پورې ستونزې حل کړې دي، خو د دې موسسې اداره په پام کې لري چې په راتلونکي کې خپل کتابتون لا غني او ډیجیټالي کړي.

ښاغلی لشکري وايي، کتابتون، کمپیوټر لب او تحقیقي مرکزونه د پوهنتونونو اساسي پایې دي، چې باید محصلینو ته یې امکانات برابر شي. دی وايي، پر رسمي ساعت سربېره، د دې موسسې محصلین کولی شي په غیر رسمي وخت کې هم له کتابتون، کمپیوټر لب، سپورټي میدانونو او شنې ساحې څخه گټه واخلي. نوموړی وايي، د کتابتون تر څنگ د محصلینو لپاره مجهز کمپیوټر لب لري او نور هغه امکانات یې ورته برابر کړي، چې په یوه پوهنتون کې د محصلینو اړتیا بلل کېږي.

د خصوصي پوهنتونونو ډېری محصلین شکایت کوي، چې پر وخت ورته تحصیلي اسنادونه نه ورکول کېږي، څو دوی ترې د دندې پیدا کولو او یا هم نورو لوړو زده کړو په برخه کې گټه واخلي، خو د وادي هلمند د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وايي، هڅه کوي چې په وخت محصلینو ته تحصیلي اسناد یا تصدیق پاڼې وسپاري، خو دا چې په افغانستان کې هېڅ شی هم د وړاندوینې وړ نه دي، نو په دې برخه کې پر ستونزو اعتراف کوي. لشکري وايي، دوی په دې برخه کې هڅه کوي، خو دا چې د خصوصي پوهنتونونو شمېر زیات او په لوړو زده کړو وزارت کې د دغو پوهنتونونو د ریاست د کار کوونکو شمېر کم دی، نو کله کله د فارغ شویو محصلینو د تحصیلي اسنادونو تایید یو څه ځنډېږي.

ښاغلی لشکري وايي، وادي هلمند د لوړو زده کړو موسسه، د محصلینو لپاره په بېلابېلو کټگوریو کې تخفیف لري. هغه وايي، د نوملیکنې پر مهال او د سمیسټر په شروع کې د محصلینو لپاره بېلابېل تخفیفونه لري. د نوموړي په خبره، اداره یې د محصل اقتصادي وضعیت او دغه راز ذکاوت ته گوري او د هغه له مخې ورته تخفیف ورکوي. لشکري وايي، نه یوازې د زده کړو په برخه کې ورته تخفیف ورکوي، بلکې هڅه کوي چې د زده کړو تر څنگ، د محصل لپاره نور هغه امکانات برابر کړي، چې له مخې یې د هغه په تجربو او وړتیاوو کې زیاتوالی راځي. د دغې موسسې اداره وايي، په هلمند ولایت کې هم له ځینو سکټوري ادارو او ځینو ریاستونو سره هوکړې لري، چې له مخې یې ځینې محصلین دوی ته ور پېژندل کېږي او دوی ورته د یو څه تخفیف په بدل کې د زده کړو زمینه برابروي.

د وادي هلمند د لوړو زده کړو موسسې اداره غواړي چې د خپل ستراتیژیک پلان او د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو پر اساس د محصلینو لپاره ټول د اړتیا وړ توکي او امکانات برابر کړي. ښاغلی لشکري وايي، د کتابتون غني کول، مجهز کول او ډیجیټالي کول، دغه راز د یوه مجهز کمپیوټر لب جوړول، د شنې ساحې پراخول، په ښه کیفیت د یوه اکاډمیک چاپېریال برابرول او د ماسټرۍ پروگرام پیلول یې لومړیتوبونه دي.

د دې موسسې اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې د تضمین کیفیت د معلوماتو لپاره لومړی باید د ولایتونو اقتصادي او امنیتي وضعیت په پام کې ونیول شي او تر څنگ یې هغه کوم پلاوی چې د کیفیت د تضمین معلوماتو لپاره پوهنتونونو ته استول کېږي، باید مسلکي وي او له هر ډول تبعیض پرته پرېکړه وکړي. د دې ترڅنگ، ښاغلی لشکري له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې کارونه یې پر وخت ورته اجرا کړي او پر وخت ورته د هو او نه ځواب ورکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۰ |
| € | ۸۷ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۰,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

روغتیا

# چرا در فصل‌های سرد بیشتر مریض می‌شویم؟

احمد فردوسی

می‌گویند که پاییز پادشاه فصل‌هاست و قدم‌زدن در میان برگ‌های زرد و طلایی‌اش شبیه قدم‌زدن در یک تابلوی زیباست. زمستان هم که، در نظر اهل شعر و شاعری، قدم‌زدن در یک قر سفید است؛ اما کافی است سرما بخورید و مریض شوید تا همهٔ این‌ها در یک چشم‌به‌هم‌زدن از یادتان برود. دقت کرده‌اید که در زمستان و پاییز شمار افراد دستمال‌به‌دستی که مجبور به کنترل آبریزش بینی خود هستند و بخورلازم می‌شوند از همیشه بیشتر است، چرا؟ متخصصان می‌گویند که احتمال دچارشدن به سرماخوردگی در زمستان و پاییز بیشتر است، اما علتش هوای بارانی و وضعیت آب‌وهوایی نیست. پس علت چیست؟ در این مطلب علت را با هم بررسی می‌کنیم.

متخصصان معتقدند که علت افزایش سرماخوردگی‌ها و بیماری ها در فصول سرد سال بارش باران و برف نیست. علت این است که در این فصل‌ها، افراد بیشتر در منزل و فضاهای بسته می‌مانند و همین باعث می‌شود که احتمال بروز عفونت افزایش پیدا کند. ضمن اینکه، ویروس‌ها درمذن رطوبت کمتر و دمای پایین‌تر بیشتر زنده می‌مانند.

**سرماخوردگی**

اکنون در آستانهٔ سردشدن هوا هستیم. برگ‌ها در حال تغییر رنگ هستند و دمای هوا هم کم‌کم کاهش پیدا می‌کند. پس باید حواس‌تان را بیشتر جمع کنید تا سلامت بمانید!

دکتر ویلیام شافنر (William Schaffner)، متخصص بیماری های عفونی و استاد دانشگاه وندربیلت (Vanderbilt) تنسی امریکاست. او می‌گوید، نرخ ابتلا به مشکلات تنفسی در پاییز و زمستان بیشتر می‌شود. انتقال و شیوع عفونت در زمستان‌ها به دو علت بیشتر از فصل‌های دیگر است. نخست اینکه، در فصول سرد، افراد بیشتر در محیط‌های بسته می‌مانند و تماس‌شان با یکدیگر بیشتر می‌شود. به همین علت، امکان انتقال بیماری‌ها نیز افزایش پیدا می‌کند. دلیل دیگر هم به رطوبت هوا مربوط می‌شود.

ویروس‌ها حدود از فاصلهٔ یک‌متری از فردی به فرد دیگر منتقل می‌شوند. به این فاصله ناحیهٔ تنفسی (breathing zone) می‌گویند. در زمستان و پاییز که رطوبت هوا کم است، رطوبت اندکی که اطراف ویروس‌ها وجود دارد، تبخیر می‌شود و به همین علت ویروس‌ها مدتی طولانی در هوا باقی می‌مانند. پس اگر شخصی در محیط مبتلا به عفونت و ویروس باشد، امکان بیمارشدن او بیشتر می‌شود.



شاید شما هم از آن دسته افرادی هستید که فکر می‌کنید ماندن زیر باران و لباس‌های خیس باعث سرماخوردگی می‌شود؛ اما چنین چیزی صحت ندارد. استفان مورس (Stephen Morse)، استاد اپیدمیولوژی و بیماری‌های عفونی در دانشگاه کلمبیا (Columbia) در نیویارک، می‌گوید: «در فصول سرد، بیشتر والدین برای حفاظت از فرزندان دربرابر بیماری‌ها آنها را در منزل نگه‌می‌دارند. تجربهٔ انسان‌ها در طول تاریخ به آنها نشان می‌دهد که در فصول پاییز و زمستان که هوا سرد است و بارندگی وجود دارد، بیماری‌ها افزایش پیدا می‌کنند. پس، به‌زعم خودشان یک رابطهٔ منطقی میان این فصول و بیماری‌ها پیدا کرده‌اند و باران و هوا را مقصر ابتلا به سرماخوردگی و بیماری‌های دیگر اعلام کرده‌اند. اما این تمام ماجرا نیست، زیرا وجود هم‌بستگی و ارتباط میان دو پدیده لزوماً به معنای وجود رابطهٔ علت و معلولی میان آنها نیست. یعنی اگرچه سرماخوردگی و بیماری‌های عفونی در فصول سرد بیشتر است، اما دلیل نمی‌شود که علت ابتلا به آنها ریشه در هوا و وضعیت آن داشته باشد».

داکتر جیمی فریدمن (Jaime Friedman)، متخصص کودکان در سن‌دیه‌گو، اعتقاد دارد که دانستن زمستان و پاییز به‌عنوان علت ابتلا به بیماری‌هایی مانند سرماخوردگی ریشه در شناخت اندک افراد نسبت به ویروس‌ها دارد. مثلاً، قبل از اینکه انسان‌ها درباره میکروب‌ها بیشتر بدانند، این‌طور فکر می‌کردند که احساس سرما و لرزی که از خیس‌شدن ناشی می‌شود، مشابه همان تب و لرز سرماخوردگی است. به همین علت، باد و باران را مقصر درجه‌یک بیماری‌های خود در فصل پاییز و زمستان می‌دانستند.

اگرچه ویروس‌ها در سرما شکوفاتر می‌شوند و بیشتر زنده می‌مانند و ما هم در پاییز و زمستان بیشتر مریض می‌شویم، اما باید بدانیم که علت بروز سرماخوردگی ویروس‌ها هستند و زمانی به سینه پهلو دچار می‌شویم که در معرض ویروس و باکتری‌ها قرار بگیریم. درنتیجه، اگر در پاییز و زمستان خود را از قرارگرفتن در معرض میکروب‌ها و ویروس‌ها در امان نگه‌داریم، امکان دچار شدن به سرماخوردگی وجود نخواهد داشت.

بنا به گزارش مرکز کنترل و پیشگیری از بیماری ها در آمریکا (CDC)، سالانه میلیون‌ها نفر به سرماخوردگی مبتلا می‌شوند. هر فرد بزرگسال به‌طور متوسط دو تا سه‌بار در سال سرما می‌خورد. این رقم برای کودکان بیشتر هم می‌شود. بیشتر افراد در فصل بهار و زمستان دچار سرماخوردگی می‌شوند، اما ابتلا به این بیماری در هر زمان و فصلی از سال ممکن است.

**آیا فصل خاصی برای بروز بیماری آنفولانزا وجود دارد؟**

آنفولانزای فصلی می‌تواند در هر فصلی از سال رخ دهد، اما بیشتر در زمستان و پاییز شاهد آن هستیم. برخی واژهٔ آنفولانزا را ریشه‌یابی کرده‌اند و به عبارت لاتینی «influenza di freddo» رسیده‌اند. این عبارت یعنی تأثیر سرما. متخصصان معتقدند که سرما و وضعیت هوا در زمستان و پاییز به ویروس‌ها اجازه می‌دهد تا راحت‌تر در محیط به گردش درآیند. البته علل دیگری هم در شیوع این بیماری در فصول سردتر سال وجود دارد. اگر زمینهٔ رشد ویروس‌ها مهیا باشد، بیشتر انواع آنها در هوای سرد بیشتر دوام می‌آورند.

در آزمایشگاه‌ها، امکان نگهداری ویروس‌ها در یخچال به‌مدت چند روز وجود دارد؛ اما در دمای عادی فریزر به‌سرعت، بی‌اثر و غیرفعال می‌شوند. دما و رطوبت در ماندگاری و فعالیت ویروس‌ها نقش دارند، اما همهٔ تقصیرها به گردن آنها نیست. فعالیت‌های افراد و تماس بیشتر آنها در فضاهای بسته در فصول سرد هم علت دیگری در ابتلا به بیماری است.

در مناطق معتدل، فصل شیوع آنفولانزا معمولاً در زمان‌های سرد سال است؛ اما در مناطق استوایی، بیشتر در فصول بارانی رخ می‌دهد و امکان وقوع آن هم در ماه‌های زمستان و هم تابستان، وجود دارد. در واقع، در نواحی گرمسیری در هر فصلی می‌توانید به آنفولانزا مبتلا شوید. همچنین بسیاری از بیماری‌های همه‌گیر در اواخر بهار و تابستان به وقوع می‌پیوندند یعنی زمانی که فصل آنفولانزا به پایان می‌رسد. مثلاً، آنفولانزای خوکی که شیوع آن از مکزیک آغاز شد به همین ترتیب و در این‌زمان در جهان گسترش پیدا کرد.

**علت‌های دیگر ابتلا به بیماری‌ها در زمستان و پاییز چیست؟**

در فصل‌های سرد سال، بدن کمتر در معرض نور آفتاب قرار دارد و همین موضوع باعث تضعیف سیستم ایمنی بدن می‌شود. البته متخصصان معتقدند که این فرضیه به مطالعات بیشتر نیاز دارد. نقش نور خورشید در ابتلا به بیماری‌ها چندان قطعی نیست و به بررسی‌های گسترده‌تر نیاز است. اما اشعهٔ فرابنفش خورشید، به‌سبب خاصیت ضدعفونی‌کنندگی شهرت دارد. مثلاً، قبل از اینکه آنتی بیوتیک ها به صحنه بیایند، از این اشعه برای درمان بیماری سل استفاده می‌شد.

**چطور از خطر ابتلا به بیماری در زمستان و پاییز جلوگیری کنید؟**

مؤثرترین راه در پیشگیری از سرماخوردگی شستن دست‌ها با صابون به‌مدت حداقل ۲۰ ثانیه است. ضمن اینکه لمس‌نکردن دهان، بینی، صورت و چشم‌ها هم از ابتلا به بیماری‌ها جلوگیری می‌کند. پرهیز از نزدیک‌شدن به افرادی که سرفه و عطسه می‌کنند، نیز در کنار ضدعفونی کردن دستگیره درها و نقاط این‌چنینی از منزل به‌صورت گاه‌گاه، خطر بیمار شدن را می‌کاهد.

درست است که باران و خیس شدن زیر ابرهای زمستانی و پاییزی دلیل اصلی ابتلا به سرماخوردگی نیست، اما هرقدر از خود بیشتر مراقبت کنید، کمتر زیر باران خیس شوید، لباس گرم بپوشید، به بدن‌تان آب کافی برسانید و از حرکات ورزشی به‌شدت سنگین دور شوید، احتمال حفظ سلامتی‌تان هم بیشتر خواهد شد. اگر هم دچار سرماخوردگی و آنفلونزا شدید در منزل بمانید تا زودتر خوب شوید و بیماری را به دیگران منتقل نکنید.

# ټرمپ په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې ۱۲۹ ميليونه ډالره د مکسيکو پر دېوال لګولي

د امريکا تر سلو ميليونو ډالرو ډېرې هغه پيسې چې په افغانستان کې له نشه يي توکو سره مبارزې ته ځانګړې شوې وې، د امريکا او مکسيکو ترمنځ د دېوال پر جوړولو لګول شوې دي.

د امريکا په مشرانو جرګه کې د ډيموکراټ ګوند پنځو سناتورانو ولسمشر ټرمپ ته په استول شوي ليک کې نيوکه کړې، چې د مکسيکو پر دېوال باندې له لګېدلو پيسو څخه (۱۲۹) ميليونه ډالره يې هغه پيسې دي، چې په افغانستان کې له نشه يي توکو سره مبارزې ته ځانګړې شوې وې.

سناتورانو دغه راز نيوکه کړې چې دا پيسې د کانګرېس د مصوبې خلاف، د مکسيکو پر دېوال لګېدلې دي.



د امريکا د مشرانو جرګې غړي چک شومر ويلي چې د نړۍ ۹۰ سلنه هيرويين د افغانستان له ترياکو څخه جوړېږي، چې له دې لارې تر لاسه شوې پيسې د طالبانو جېبونو ته ځي.

بلخوا د کورنيو چارو وزارت وياند نصرت رحيمي د ټرمپ د دغه کار په غبرګون کې ويلي، چې افغان دولت له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې مالي ستونزې نه لري او درې واړه امنيتي اداري يې په يوازې ځان له نشه يي توکو سره مبارزه کولی شي.

هغه ويلي: «افغان حکومت دا توان لري چې له نشه يي موادو او نشه يي موادو له قاچاقو سره مبارزه وکړي، د ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونه، ملي امنيت رياست او ناټو ځواکونه په ګډه د نشه يي موادو هغه لويې زېرمې له منځه وړي، چې د طالبانو مالي سرچينه بلل کېده. موږ په تېر يوه کال کې د نشه يي موادو هغه (۱٦۰) کارخانې ويجاړې کړې، چې ترهګرو به سلګونه ميليونه ډالر عوايد ځنې تر لاسه کول».

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا دفاع وزارت د روان مالي کال په پيل کې له کانګرېسه غوښتي، چې د نشه يي توکو له کښت، توليد او قاچاقو سره د مبارزې په برخو کې له افغانستان سره ۱۵۳ ميليونه امريکايي ډالر مرسته وکړي، خو امريکايي سناتورانو ويلي، د امريکا دفاع وزارت دوی ته خبر نه دی ورکړی چې دا پيسې يې له مکسيکو سره پر پوله باندې پر جوړېدونکي دېوال لګولي دي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey




یکشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۰مه | ٤٤٧مه ګڼه

www.Maseerdaily.af  twitter/MaseerDaily  Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۲۷ | ۲۸ | ۲۸ | ۲۸ | ۲۷ |
| ۷ | ۸ | ۹ | ۱۳ | ۱۵ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۹ | لمر ختل ۰٦:۰۱ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیګر ۰۲:٤۹ | ماښام ۰۵:۱۵ | ماخوستن ۰٦:۳۹

## غني: ضروريات وزارت‌های دفاع و داخله بر اساس بودجه دست داشتهٔ شان، تأمین شود



رئیس جمهور کشور، ضمن تأکید بر صرفه جویی در مصارف وزارت‌های دفاع ملی و امور داخله گفته است که ذخایر تیل این نهادها بررسی گردد و میکانیزمی برای ثبت وسایط آنها وجود داشته باشد.

در خبرنامهٔ ارگ ریاست جمهوری که شام دیروز منتشر شده، آمده است که این نشست بعد از ظهر دیروز در ارگ ریاست جمهوری انجام شده است.

منبع در خبرنامه به نقل از رئیس جمهور محمد اشرف غنی، نوشته است که وزارت‌های دفاع ملی و امور داخله، روی یک طرح منظم صرفه جویی و کاهش مصارف، کار کنند.

غنی گفته است که مدیریت مالی بهتر صورت گیرد، کار وصل نمودن تاسیسات نهادهای امنیتی به برق شهری تسریع گردد، در بخش تدارکاتی صرفه جویی صورت گیرد و از تدارکات غیر ضروری در همه بخش‌ها جلوگیری به عمل آید.

موصوف تصریح کرده است که ذخایر تیل بررسی گردد و میکانیزمی برای ثبت وسایط نهادهای متذکره وجود داشته باشد؛ تا وسایط و اسلحه به گونهٔ اساسی ترمیم شوند.

رئیس جمهور با بیان اینکه پلان حفظ و مراقبت تاسیسات و ساختمان‌ها نیز وجود داشته باشد، گفته است که ملکی سازی در چوکات وزارت‌های دفاع ملی و امور داخله، طبق برنامه عملی گردد تا در بخش‌های مالی، لوژستیکی و تدارکاتی، متخصصین ملکی گماشته شوند.

رئیس جمهور غنی، بر خودکفایی نهادهای متذکره تأکید کرده است و گفته است که باید ضروریات وزارت‌های دفاع ملی و امور داخله، بر اساس بودجهٔ دست داشتهٔ شان، تأمین گردد.

## نړۍ




## جاپان: په فارس خلیج کې د تېل وړونکو بېړیو د ساتنې لپاره له واشنګټن سره همکارۍ ته چمتو یو



جاپان ویلي، د امریکا په مشرۍ له هغه ائتلاف سره به یو ځای نه شي چې موخه یې له منځنی ختیځه د سوداګریزو مالونو د لېږد د امنیت ساتل دي.

د جاپان د دولت ویاند یوشیدا سوګا په یوه خبري غونډه کې ویلي، دوی په دې برخه کې جلا اقدامات کوي او د دې لپاره چې جاپان ته د تېلو د لېږد خوندیتوب ډاډمن کړي، سیمې ته خپلې کښتۍ استوي.

پر دې سربېره، نوموړي زیاته کړې، توکیو به د تېلو د لېږدوونکو بېړیو د ساتنې په برخه کې له واشنګټن سره نږدې همکاري وکړي.

د سوګا په خبره، په منځنی ختیځ کې سوله او امنیت د جاپان په ګډون، د نړیوالې ټولنې لپاره مهم دي.

دا په داسې حال کې ده چې په فارس خلیج کې تر وروستیو کړکېچونو وروسته، لوېدیځ او عرب متحدینو یې پر ایران تور پورې کړی چې په دې وروستیو کې یې پر ځینو تېل وړونکو بېړیو بریدونه کړي، خو ایران بیا دغه تورونه بې بنسټه بللي دي.

په فارس خلیج کې تر وروستیو کړکېچونو وروسته، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په یاده سیمه کې د سمندري ځواکونو پر مټ، د سوداګریزو بېړیو د امنیت د ټینګښت کمپاین پیل کړی دی.

که څه هم ځینو لوېدیځو او عرب هېوادونو د دې اقدام ملاتړ کړی دی، خو د واشنګټن ځینو نورو متحدینو تر دې دمه په دې اړه څه نه دي ویلي.

## د برېټانیا پارلمان له اروپايي ټولنې د دغه هېواد د وتلو ځنډېدل تصویب کړل



د برېټانیا پارلمان تېره ورځ په لومړي ځل رایې اچونه کې هغه طرحه تصویب کړه، چې له مخې یې له اروپايي ټولنې د دغه هېواد د وتلو ځنډول غواړي.

له دې سره باید د لومړي وزیر بوریس جانسن له هوکړې سره برېټانیا د راتلونکي کال د جنورۍ میاشتې په پای کې له اروپايي ټولنې ووځي.

د دغه هېواد د پارلمان ۳۲۲ غړو دغه طرحه تایید کړې، خو ۳۰٦ نورو غړو د رد رایه ورکړې ده.

دغه طرح د لومړي وزیر بوریس جانسن د خوښې خلاف رایې ته وړاندې شوه او رایه اچونه د نوموړي لپاره د یو ډول ماتې په مانا بلل کېږي.

د لومړي وزیر جانسن له مخالفانو یو هم کارګر ګوند دی چې دغه اصلاحیه یې تایید کړې ده. تر دې وړاندې جانسن څو ځله ویلي وو چې د برېګزېټ له ځنډولو سره مخالف دی. له اروپايي ټولنې د برېټانیا د وتلو یا برېګزېټ هوکړې ارزونې غونډه د برېټانیا په تاریخ کې ۳۷ کاله وروسته داسې غونډه وه، چې د اونۍ پر وروستۍ یا د رخصتۍ په ورځ «شنبې» وشوه.

د دغې طرحې له مخې، که له اروپايي ټولنې سره د لومړي وزیر بوریس جانسن هوکړه تصویب هم شي، نوموړی باید له اروپايي ټولنې غوښتنه وکړي چې برېګزېټ وځنډوي.

دغه طرحه د لومړي وزیر جانسن له هغه دریځ سره څرګند تضاد لري چې وایي، برېټانیا به د اکتوبر په ۳۱مه یا له هوکړې سره او یا بې هوکړې له اروپايي ټولنې ووځي.

## ژوند

## تاسو خپله ښکلا او وړتیا لرئ



ډېری وخت چې مور نورو ته ګورو، له ځان سره وایو: هې! دا څومره ښه او ځانګړی (خاص) دی، خو زه بیا ډېر معمولي یم. دا سمه ده چې هغوی به په ځینو برخو کې ځانګړي وي، خو کومې ځانګړتیاوې او ښېګڼې چې تاسې یې لرئ، هغوی یې نه لري. تاسې په خپل ذات کې بې بېلګې یاست. تاسې د وړتیا څښتن او جذاب یاست او تاسې په ځانګړې دقت او ځانګړې ظرافت جوړ شوي یاست. لازمه نه ده چې مور یوازې نور خلک وهڅوو، ستاینه یې وکړو او لوی یې معرفي کړو.

که څه هم چې دا ښه کار دی، خو د ځان ستاینه او ځان ته پاملرنه کول بیا ضروري دي. کله چې خدای پاک ښایست او وړتیاوې وېشلې، داسې نه ده چې تاسې یې له پامه غورځولي وی. خدای پاک په تاسې کې داسې څه ځای پر ځای کړي دي چې ستاسې د ځلېدو لامل کېږي. تاسې هم کولای شی یو غښتلی سوداګر، بریالی کار پنځوونکی، زړه سواندی ښوونکی او یا یوه فوق العاده مور شی. پر هغه څه چې تاسې یې نه لرئ او نور یې لري، تمرکز مه کوئ.

## غواړې په لږ وخت کې ډېر وزن کم کړې؟



د وزن زیاتوالی د وخت په تېرېدو سره انسان له ډېرو ناروغیو سره مخ کولی شي. کېدای شي د وزن د کمولو لپاره ډېرې لارې چارې وي او خلکو ترې ګټه هم اخیستې وي؛ خو بیا هم د وزن کمول ډېر وخت، سخت تمرین او رژیم ته اړتیا لري چې دغه چاره د هر چا د وس او حوصلې خبره نه ده. نن سبا ډېری خلک د وزن له زیاتوالي سره مخ دي او له مختلفو لارو هڅه کوي چې وزن کم او یا کنټرول کړي. وروستیو څېړنو ثابته کړې چې له زنجبیل څخه ګټه اخیستل کولی شي په اسانۍ سره ستاسو وزن کم کړي. زنجبیل د غذا له هضم او جذب سره مرسته کوي. څېړونکي وایي، زنجبیل خپله په معده کې یو ډول مواد ترشح کوي، چې هضم او جذب ګړندی کړي. دوی وایي، زنجبیل چربي سوځوونکی خاصیت لري، که له خوړو سره یو ځای وکارول شي، د وزن له کمولو سره مرسته کوي. ډاکټران وایي، که غواړئ وزن مو کنټرول کړئ، خپل غذایي رژیم ته زنجبیل ور زیات کړئ، ځکه زنجبیل په خوړو کې غوړین مواد او په بدن کې شته چربي له منځه وړي او د وزن د کمولو سبب کېږي.